
لنډه کیسه
Ketabton.com
ملک
لیکوال: واجد منګل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ملک

**ليکوال: واجد « منګل »**

**ترتيب: افغان کتابتون**

(c) ketabton.com: The Digital Library


# پېيل

د کړکۍ له شيشې څخه د لمر وړانګو د ښځې ژېړ مخ لا ژېړ کړی وو، په بدن کې يې د وينې څرک نه مالومېده، سيروم ور ته راځوړند وو، هرو څو ثانيو کې يې څاڅکې څاڅکې وينه اخيسته.

ور سره ناست دولس کلن ماشوم، د ښځې اوږې ته خپل لاس ور وغځاوه، د ښځې ګوتې اوخوريدې، ماشوم وژړل، له کوچنيو سترګو يې غټې اوښکې تويې شوې. په غريو کې يې له خولې د «ادې» لفظ را ووت.

سړی ور پورته شو، ماشوم يې له مټه ونيو، شاته يې کش کړ.

ماشوم ژړل.

سړی وويل:

- پريږده چې مرداره شي.

د ښځې له سترګو خړه پرده اوچته شوه، ويې غړولې، سيکه نه وه ور پاتې، بېرته يې بندې کړې...

سړي سوړ اسويلی وکړ، په سپينه ږيره يې لاس تېر کړ، له مېزه يې سپينه خولۍ ور واخيسته او پاڅېد.

د کوټې ور وټکېد، کس را ننوت، ډاکټر وو، سپينه چپنه يې په تن وه.

سړی بېرته په خپل ځای کې کېناست.

ډاکټر د ښځې مخې ته څو دقيقې ولاړ وو، د ښځې نفس او فشار يې ولید. ښځې د يوې مياشتې راهسې د کم خـــوني ناروغی لرله. دا ځل روغـــتون ته د هغې راتګ يواځې کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني نه وه، د سر ضربه هم ورسره ملګرې وه، تندى يې پرې (ځيرې) وو.

وروسته ډاکټر سړي ته مخ ور تاو کړ، په خوشحالۍ يې وويل:

- ملک صيب، مېړمن مو په ښه کېدو ده. شکر چې زموږ د همکار د ويني ګروپ ور سره سمون اوخوړ، کني اوس به ژوندۍ نه وه پاتې.

سړي ترخه موسکا وکړه، د منني لپاره يې ورته لاسونه په سينه کېښودل:

- ښه شوه چې وه ژغورل شوه. او له تاسې هم ډېره مننه!

ماشوم سړي ته برګ برګ کتل.

وروسته سړي وټوخل، رنګ يې سور شو، له ځايه پاڅېد، د باندې ووت.

د ماشوم په مخ د اوښکو چاپونه وو، سپين غومبري يې د اوښکو له امله خيرن ښکاريدل.

ماشوم سلګۍ کولې.

ډاکټر ور وکتل:

- مه ژاړه زويه، مور دې ښه کېږي.

ماشوم پوزه کش کړه، له اوښکو ډکې سترګې يې له مور سره نيږدې ولاړ ډاکټر ته ونيولې، په ژړا کې يې وويل:

- ملک چا ته وايي؟

- هغه کس ته، چې د خلکو ستونزې حل کوي.

- نو زما پلار، زما د مور ستونزه ولې نه شي حل کولی؟، هره ورځ يې زما مور له ويښتو را نيولې وي او وهي يې.

ډاکټر حيران ورته وکتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم د ژبې د بندیدو له امله د «پلوشې» نوم سم نه شو اخیستلی، په سختۍ یې وویل:

- که نن د پل، پلوسې دوی بابو نه وای خبره شوې، پلار به مې ادې مړه کړې وای.

ډاکټر په لاس کې نیولې پیچکاری د کټ په ژۍ (څوکه) کېښوده، وروسته ماشوم ته ور نیږدې شو، په مخ یې لاسونه ور تېر کړل، اوښکې یې ور پاکې کړې، ویې ویل:

- ملک صیب ولې خپله ښځه وهي؟

ماشوم زګیروی وکړ:

- وايي، بله ښځه کوم خو مور مې...

له دروازې سره ولاړ سړي په تېزه ستونی تازه کړ، ماشوم ژر ور وکتل، سړي (د ماشوم پلار) وو، ماشوم چوپ کېناست.

ډاکټر د ماشوم له څنګه لیرې ودرېد، سړي ته یې په ځیر ځیر وکتل. یوه شیبه یې سترګې پکې نیولې وې، وروسته یې له څنګه تېر او د باندې ووت.

# پای

(c) ketabton.com: The Digital Library



**یادونه!**

**خپل نظرونه مو په لاندې ادرسونو را سره شریک کړئ.**

فیسبوک: Wajid Mangal

واټساپ: +4368864664143

ایمیل: Wajidmangal2003@gmail.com

ډېره مننه له افتخارالله افتخار څخه!

د کره کتنې په پار مې کیسه ور ولیږله، لومړی کس وو چې راته یې وویل؛ کیسه دې ډېره ښه لیکلې.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**